مسیر
ورځپانه
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af
چهارشنبه د ۱۴۰۰ د وري ۱۸مه | د ۲۰۲۱ د اپریل اوومه | ۷۰۵مه گڼه

# په دوحه او کابل کې پر اجنډا کشمکش؛

## افغان حکومت له یوې واحدې طرحې سره د ترکیې په غونډه کې گډون کوي


۳

**د ترکیې غونډه، چټکې هڅې او هیلې**
۲ مخ

**اشرف غنی با وزرای کابینه‌اش چه رفتاری دارد؟**
۲ مخ

**ماشومان خنگه مطالعې ته وهڅوو؟**
۳ مخ

## امریکایي رسنۍ: د اوباما او ټرمپ میراث بایډن د افغان جگړې اوږدېدو ته اړ کړی

د پوست انډ کاریر په نامه امریکایي ورځپاڼې راپور ورکړی، چې د پخوانیو امریکایي رهبرانو میراث اوسنی ولسمشر جو بایډن د افغانستان د جگړې اوږدېدو ته اړ کړی دی.
په راپور کې راغلي، د امریکا دوو پخوانیو ولسمشرانو بارک اوباما او ډونالډ ټرمپ دواړو په افغانستان کې د امریکا د تر ټولو اوږدې جگړې د پای ته رسولو ژمنه کړې وه، خو دواړه په دې ژمنو کې پاتې راغلي او ممکن جو بایډن هم د دغه بار تر عهدې په بریالۍ توگه ونه وځي. راپور کاږي، ټرمپ پوهېده چې له افغانستان څخه د امریکایي ځواکونو وتل په دومره کمه موده کې امکان نه لري، خو سره له دې یې له طالبانو سره په شوې هوکړه کې دا مسئله ومنله او په لوی لاس یې بایډن ته خنډونه جوړ کړل. په راپور کې دغه راز د بایډن وروستیو څرگندونو ته په اشارې چې ویلي یې دي تر ټاکلې نېټې له افغانستان څخه د سرتېرو وتل ممکن نه دي راغلي، که بایډن دا تصور نه شي کولی چې په روان کال کې له افغانستان څخه د سرتېرو وتل ممکن نه دي، نو دا فکر دې هم نه کوي چې تر ۲۰۲۴ میلادي کال پورې دې امریکایي سرتېري له افغانستان څخه و ایستل شي. د راپور په یوه برخه کې د سرتېرو د حضور دلایلو ته په اشارې راغلي چې له افغانستان څخه د سرتېرو ایستل له سیاسي اړخه د امریکا لپاره ستره ماتې بلل کېدای شي.

## د مې میاشتې تر لومړۍ نېټې پورې له افغانستانه د ځواکونو ایستل ستونزمن دي


۵ مخ

کتاب
۴ مخ

## بریالی فکر او عمل




لومړنی بدلون ستاسو په داخل کې تر سره کېږي. تاسو له ځانه وړانگې خپروی، چې د یوه مقناطیس په څېر نور بریالي او روڼ اندي کسان ستاسو خوا ته را جذبوي. تاسو د یوه بریالي تفکر قلمرو ته دننه کېږی.

## رستمي: تېر کال په افغانستان کې څه باندې یو مټریک ټنه وریښم تولید شوي




کرنې وزارت وایي، چې تېر کال په افغانستان کې څه باندې یو مټریک ټنه وریښم تولید شوي دي. د دغه وزارت چارواکي وایي، چې دغه لرغونی صنعت په افغانستان کې یو ځل بیا د ودې په حال کې دی.
د کرنې وزات ویاند اکبر رستمي وایي: «زموږ معلومات ښیي چې په تېر ۱۳۹۹ هجري لمریز کال کې په افغانستان کې د وریښمو تولید یو زر او ۹۹ کیلو گرامو ته رسېدلی دی.»
رستمي زیاته کړه، چې جوزجان، ننگرهار، هرات او بلخ په پرله پسې توگه په افغانستان کې د وریښمو لوی تولیدوونکي ولایتونه دي. د یادونې ده چې د وریښمو تار د یو ډول چنجي نه ترلاسه کېږي، چې د جامو او غالیو په اوبدلو کې ترې گټه اخیستل کېږي. دغه تار د نورو صنعتي تارونو په پرتله خورا لوړ کیفیت لري او له تاریخي پلوه د ډېرو لرغونو صنعتونو له ډلې دی.

## ارگ: رئیس‌جمهور غنی طرح خود را برای صلح شرح داد



پس از پیشکش طرح صلح زلمی خلیل‌زاد، نمایندۀ ویژۀ وزارت خارجۀ آمریکا برای صلح افغانستان به دولت، محمداشرف غنی، رئیس‌جمهور طرح خود را برای صلح در نشستی در ارگ ریاست‌جمهوری شرح داده است. ارگ ریاست‌جمهوری با پخش خبرنامه‌یی می گوید که جزئیات این طرح بعد همه‌گانی می‌شود. این در حالی‌ست که پیش از این شماری از رسانه‌ها گزارش داده‌اند محمداشرف غنی طرح سه مرحله‌یی را که شامل سه بخش ثبات سیاسی، ایجاد حکومت صلح و مشوره دربارۀ صلح برای دست‌یابی به موفقیت نهایی می‌باشد، تهیه کرده و به شورای عالی مصالحۀ ملی سپرده است. این طرح در شورای عالی مصالحۀ ملی مانند سایر طرح‌ها زیر بررسی‌ست و قرار است در نشست استانبول ارایه شود. محمداشرف غنی، رئیس‌جمهور طرح خود را برای صلح دیروز در نشستی در ارگ ریاست‌جمهوری شرح داده است. گفته می‌شود بخش نخست این طرح زیر عنوان ایجاد ثبات سیاسی، شامل موافقت بر سر موفقیت نهایی، توافق بر سر آتش‌بس و نظارت بین‌المللی، توافق بر سر اصول دولت صلح، کسب ضمانت بین‌المللی و منطقه‌یی و نیز جست‌وجوی ساختاری برای مبارزه با تروریسم و تأیید آن توسط لویه جرگه است. «بخش دوم شامل تدابیر لازم برای حرکت به سوی موفقیت نهایی، اقتدار قانون اساسی و ساختار قانونی برای اجرای آن، برنامه‌های حکومت‌داری و توسعه، امنیت، آتش‌بس و برگزاری انتخابات می‌باشد.»
در بخش سوم طرح محمداشرف غنی، به تقویت صلح از طریق یک نقشۀ راه برای موفقیت نهایی پرداخته شده است که شامل ساختار قانون اساسی، ساختار سیاسی، بازگشت مهاجران و بی‌جاشده‌گان به زنده‌گی عادی، ایجاد امنیت و دولت و نیز اولویت‌های توسعه می‌باشد.

Aksos
اکسوس کتابپلورنځی
Aksos Book Store
Add a Book to Your Life

دهبوریو پارک جنوبي دروازې ته مخامخ
0798-98-9696, 0202504652
aksosbookstore@gmail.com
www.aksosbookstore.af
Aksos Book Store
Aksos Book Store

## سرلیکنه

### د ترکیې غونډه، چټکې هڅې او هیلې

د ملگرو ملتونو، ترکیې او قطر استازو د افغانستان په تړاو په ترکیه کې د جوړېدونکې غونډې په اړه گډ کار پیل کړی دی. د دې تر څنگ ویل کېږي چې زلمي خلیلزاد په دوحه کې د طالبانو او افغان حکومت مذاکراتي ټیم استازو ته هغه لیک سپارلی، چې پکې د ترکیې د غونډې اجنډا معلومه شوې ده. امریکایانو د ترکیې غونډې ته د اپریل ۱۶مه نېټه ټاکلې او په چټکۍ ورته هڅې کوي.

اوس ښکاري چې د ترکیې غونډې ته د امریکا هڅې تر بل هر وخت جدي شوي او دوی غواړي چې د مې تر لومړۍ نېټې وړاندې دا غونډه جوړه کړي. امریکایان ځکه دې غونډې ته بېړه لري، چې د طالبانو او امریکا ترمنځ د هوکړې وخت تر مې میاشتې پوره کېږي او تر دې وخته باید ټول بهرني ځواکونه له افغانستان څخه ووځي. په بین الافغاني خبرو کې پرمختگ نه دی شوی، طالبان له تور لېسته نه دي ایستل شوي، پاتې طالب بندیان نه دي خوشي شوي او طالبانو هم جگړه جاري ساتلې ده. له همدې امله اوس د دوحې هوکړې وخت ختمېږي او په دې ډول شوې ژمنې نه دي عملي شوې. اوس چې امریکا غواړي دا غونډه تر مې میاشتې مخکې جوړه کړي، نو ښایي په دې سره له طالبانو سره یوه بلې هوکړې او یا هم د ځواکونو پر وتلو له سره غور کولو ته لاره هواره کړي.

د ترکیې غونډې ته د افغاني اړخونو تر څنگ د افغانستان ټول گاونډیان او هند، ناورې، جرمني، اندونیزیا او قطر هم ور بلل شوي. د دې غونډې کوربه‌توب به ملگري ملتونه او ترکیه کوي او ټولې چارې به د امریکا په خوښه او غوښتنه مخ ته ځي. د غونډې لپاره د امریکا له هڅو، بهرنیو اړخونو او نورو بدلونونو ښکاري چې امریکا غواړي یو مهم بدلون راولي. د ترکیې د غونډې په اړه ویل کېږي چې عمومي اصول، انتقالي دوره او اوربند یې د اجنډا عمومي خبرې دي او پر دې مسایلو به توافق کېږي. که ربښتیا هم پر دې مسایلو توافق وشي، نو د افغان ستونزې د حل په برخه کې به یو اساسي گام اخیستل شوی وي او مهم خنډونه به لرې شوي وي. که دا غونډه لکه چې ویل کېږي، همداسې مخ ته ولاړه شي، نو ډېره تمه ترې کېدلی شي او هیله ده چې افغانستان ته سوله راوړي. که هر څه افغانانو ته پرېښودل شي او بهرنیان یوازې د اسانچارو او مثبتو فشارونو لپاره وکارول شي، نو بیا به مور د سولې لوري ته ولاړ شو، خو که افغاني اړخونه ترکیې ته وغوښتل شي او یا هم اړ کړل شي چې هتله ولاړ شي او هلته ټولې چارې د بهرنیانو په لاس کې وي او بهرنیو پرېکړو ته یوازې افغاني رنگ ورکول کېږي، دا نو بیا ښایي د لنډ وخت لپاره ستونزې حل کړي، خو هېڅکله د دوامدارې سولې او امن سبب نه شي کېدلی. له همدې امله د ترکیې د غونډې لپاره پکار ده چې د بن تجربه هېره نه شي. دا ځل باید هر څه افغانانو ته پرېښودل شي او بهرنیان یوازې باید د اسانچارو رول ولوبوي او د ستونزو پر وخت مثبت فشار راوړي.

# اشرف غنی با وزرای کابینه‌اش چه رفتاری دارد؟

علی حسینی؛ بی‌بی‌سی

۲۹ حوت سال ۱۳۹۳ ساعت ۹ صبح، یکی از وزیران حکومت وحدت ملی که هنوز وزیر نشده بود، در یکی از حوض‌های (استخر) آب‌بازی شهر کابل مشغول شنا بود که دوستش گفت: «دیشب تصمیم گرفته شده است که تو به عنوان نامزد وزیر معرفی شوی.»

چند روز بعد، او در ارگ ریاست‌جمهوری روبه‌روی محمد اشرف غنی، رئیس جمهوری افغانستان نشسته بود و به سئوال‌هایش پاسخ می‌داد. رئیس جمهوری در پایان مصاحبه‌ای ۴۵ دقیقه‌ای گفت: «از امشب تضمین گرفتن رأی وکلا/ اعضای مجلس نمایندگان را شروع کن و برای گرفتن رأی اعتماد آمادگی بگیر.»

حکومت وحدت ملی پس از جنجال انتخاباتی محمد اشرف غنی و عبدالله عبدالله در سال ۱۳۹۳ شکل گرفت و هر کدام از آن‌ها در تعیین اعضای کابینه سهم داشتند.

این وزیر یکی از ۲۵ وزیر حکومت وحدت ملی بود که بر اساس یک سیستم سهمیه‌ای وارد کابینه شده بودند. به گفته او:»در اوایل رفتار آقای غنی با وزرا به‌گونه‌ای بود که می‌شود به‌عنوان «هانی‌مون/ ماه عسل» از آن یاد کرد؛ کم‌کم اما مخالفت‌ها شروع شد و کار به جایی رسید که آقای غنی برای حذف برخی از وزرایی که به مذاقش خوش نمی‌آمد، دوسیه‌سازی/ پرونده‌سازی می‌کرد.»

**بار دیگر وزرای سرپرست**

چندی پیش محمد اشرف غنی، رئیس جمهوری افغانستان مسعود اندرآبی، وزیر داخله را برکنار کرد. حالا تعداد وزارت‌هایی که توسط سرپرست‌ها اداره می‌شوند، به هفت وزارت رسیده است؛ موضوعی که بارها مورد انتقاد مجلس نمایندگان قرار گرفته است. چندی پیش مجلس نمایندگان بار دیگر تاکید کرد که حکومت آقای غنی باید هرچه زودتر نامزد وزرای جدیدی را برای گرفتن رأی اعتماد به مجلس معرفی کند. در حال حاضر هفت وزارت، دادستانی کل و ریاست بانک مرکزی با سرپرست اداره می‌شوند که به گفته مجلس نمایندگان خلاف قانون اساسی است.

کابینه فعلی همانند کابینه قبلی دولت وحدت ملی در پی جنجال‌های انتخاباتی بین آقای غنی و آقای عبدالله سهمیه‌ای است و مثل دوره قبل، این دوره نیز تعداد وزرای سرپرست کم نیست.

فارغ از جنجال‌های بین مجلس نمایندگان و حکومت آقای غنی، اعضای کابینه فعلی با چه نوع رئیس جمهوری کار می‌کنند؟ مشخصات مدیریتی و رفتاری او در برخورد با وزرا چگونه است؟

در مدت چند ماه گذشته من(نویسنده) با یازده عضو کابینه حکومت وحدت ملی صحبت کردم و از تجربه‌شان در کار با آقای غنی پرسیدم و سئوال کردم که اعضای کابینه فعلی با چه نوع شخصیتی روبه‌رو هستند؟ شماری از آن‌ها خواستند که نامشان در این گزارش ذکر نشود. نظر برخی از مقام‌ها از جمله سخنگویان ریاست جمهوری را نیز پرسیدم، اما پاسخی دریافت نکردم.

**طرح مهم است یا صاحب طرح؟**

در کابینه نوپای حکومت وحدت ملی، به ویژه برای آقای غنی یکی از موضوعات اصلی، طرح‌های وزیران در زمینه بهبود وضعیت و حل چالش‌های متعدد بود.

از سئوال‌های اصلی‌ام در مصاحبه با یازده وزیر، سرپرست‌وزیر و عضو کابینه حکومت وحدت ملی این بود که برخورد رئیس جمهوری با طرح‌های‌شان چگونه بود؟

یکی از آن‌ها که سال‌ها با آقای غنی همکار بود پاسخ داد: «مشکل کلان او این است که از خود طرح، بیشتر آورنده طرح برایش مهم است. از خود پیام، پیام‌آور برایش مهم است. اگر وزیر مربوط به سهمیه آقای عبدالله آورنده طرح بود، نهایت سعی خود را به خرج می‌داد که طرح را کم بزند و رد کند.»

سیدانور سادات سال‌ها در حکومت محمد اشرف غنی والی و وزیر بود. از دید او اما «طرح معقول» در کابینه با اکثریت آراء تصویب می‌شد. بعضی از طرح‌ها به دلایل فنی رد می‌شد. ملاحظات رئیس جمهوری منطقی و راهنمایی‌هایش مؤثر بود.

وزیر دیگری که از سهمیه آقای عبدالله عضو کابینه بود، اما گفت: «آقای غنی از طرح‌ها و برنامه‌ها حمایت نمی‌کرد. باربار رد می‌کرد. مواردی بود که یک طرح مهم، دو سال منتظر امضای آقای غنی مانده بود؛ چرا که نمی‌خواست فلان نفر آن کار را انجام دهد و دستاوردی برایش محسوب شود. در کابینه فهمیده می‌شد که نمی‌خواهد طرح، عملی شود و تعلل می‌ورزد. شاید خودش فکر می‌کرد که دیگران نمی‌فهمند، اما برای همه واضح بود. ولی طرحی که مورد نظرش بود، حتی اگر پر از ایراد هم می‌بود، می‌پذیرفت و می‌گفت خیر است، مشکلات است و ...»

یکی دیگر از وزرا گفت: «اگر از طرحی خوشش نمی‌آمد، وزیر را باد باد می‌کرد/ به‌شدت انتقاد می‌کرد. روزی یکی از وزرا طرحی را ارائه کرد که طولانی بود. آقای غنی از زیادخواندن خوشش نمی‌آید. از وزیر بسیار انتقاد کرد. برخوردش طوری بود که احتمالاً وزیر از ارائه طرحش پشیمان شده بود.»

اما لعل‌الدین آریوبی، وزیر پیشین دولت در امور شهدا و معلولین و از نزدیکان اشرف غنی می‌گوید که جنبه تطبیقی و کاربردی طرح برای آقای غنی بسیار مهم است. به گفته آقای آریوبی، اشرف غنی روی نتیجه طرح‌ها بحث می‌کند و اگر طرحی نیاز به اصلاح داشته باشد، نظر خود را مطرح می‌کند.

برخلاف آقای آریوبی، اما یکی از اعضای کلیدی کابینه گفت: «آقای غنی از طرح‌های وزیران به‌طور کامل استفاده نمی‌کند. با توجه به حس باسوادبودنی که دارد، احساس می‌کند که اگر کامل از طرح‌ها استفاده کند، به او توهین می‌شود.»

سئوال دیگری که از یازده عضو کابینه آقای غنی پرسیدم، این بود که تا چه اندازه انتقاد از دیدگاه‌ها و نظریات رئیس جمهوری در نشست‌های کابینه ممکن بود؟

عبدالرزاق وحیدی در حکومت وحدت ملی وزیر مخابرات بود. او به اتهام حیف‌ومیل میلیون‌ها افغانی برای استخدام ۳۷ کارمند پاره‌وقت پس از سه جلسه حضور در دادگاه ویژه وزیران بی‌گناه شناخته شد و برائت گرفت. آقای وحیدی می‌گوید: «بعضی از وزرا به پیشانی آقای غنی نگاه می‌کردند و بر اساس وضعیت پیشانی او صحبت می‌کردند. واکنش خلاف نظر آقای غنی با تندی مواجه می‌شد. گاهی در هنگام ابراز نظر، از سوی رئیس جمهوری با تندی متوقف می‌شدیم و می‌گفت که دیگر بس است. ‹ابَر وزیر› داشتیم. در کابینه وزیرهایی داشتیم که برای ارائه دیدگاه وقت زیادی داشتند. در جلسات کابینه انتقاده شنیده نمی‌شد. آقای غنی در واقع می‌خواست که مثل یک عالم به او احترام گذاشته شود، اما رفتارش مانند پادشاه بود. اصرار داشت که زاویه دیدش نسبت به دیگران متفاوت است.»

به گفته یکی از وزرا: «در نشست‌های کابینه از بس فضا تلخ بود، هیچ کسی انتقاد نمی‌کرد. آقای غنی رویت هجوم می‌آورد، به همین خاطر، دیگر اعضای کابینه (پیش وزیر منتقد) عذر می‌کردند که فضای نشست‌ها را تلخ نکن. اما حضور داکتر عبدالله در نشست‌ها این خوبی را داشت که نقطه بالانس/ تعادل بود. صاحب رأی هم بود.»

وزیر دیگری هم گفت: «هیچ کس از آقای غنی نقد نمی‌کند؛ همین نبود نقد سبب شده است که او خود را عالم بداند. بیشتر وزرا همیشه از رئیس جمهوری در حضورش تعریف می‌کنند.»

یکی از وزرای نزدیک به آقای عبدالله گفت: «آقای غنی مطلق‌نگر است. حتی وقتی که مسئله‌ای خلاف نظرش مطرح و گفته می‌شد که قانون این‌گونه می‌گوید، با خشم می‌گفت: من کی هستم؟ یعنی هر گپی که من می‌گویم همان قانون است.»

**«مشکل از وزراست»**

شاه‌حسین مرتضوی، مشاور فرهنگی رئیس جمهوری و از سخنگویان سابق ریاست جمهوری یکی از مشهورترین چهره‌هایی است که از عملکرد آقای غنی همواره دفاع کرده است. او مدت‌ها در نشست‌های کابینه حضور داشته است. از دید آقای مرتضوی مشکل از وزراست، نه از محمد اشرف‌غنی. او می‌گوید:»رئیس جمهوری اجازه نمی‌دهد که جلسه خارج از موضوع تعیین‌شده پیش برود. در بعضی از نشست‌ها شانزده، هفده وزیر نظر داده‌اند. رئیس جمهوری فقط جمع‌بندی می‌کند. گاهی یک وزیر نظری می‌دهد که به موضوع جلسه هیچ ربطی ندارد. در این‌صورت آقای غنی تذکر می‌دهد.»

آقای مرتضوی می‌گوید: «نسبت به دوره آقای کرزی در نظم جلسات کابینه از زمین تا آسمان تفاوت آمده است. مثلاً در زمان حامد کرزی، در یکی از نشست‌های کابینه درباره سریال هندی تولسی بحث شده است. شما می‌توانید این موضوع را از آقای مخدوم رهین (وزیر پیشین اطلاعات و فرهنگ) سئوال کنید. در یکی از جلسات کابینه یکی از اعضای کابینه آقای کرزی، سریال تولسی را قصه می‌کند و برای دقایق بسیار طولانی هر کس در این باره نظر می‌دهد. آقای غنی اما اولین کارش، رعایت نظم در جلسات است. سر ساعت شروع و سر ساعت ختم می‌شود.»

به گفته آقای مرتضوی در مواردی یک موضوع با اتفاق آراء تصویب شده است، اما پس از آن، یک وزیر موضوعی به ذهنش خطور کرده و آن‌را مطرح می‌کند که در مقابل، آقای غنی گفته است که زود می‌گفتی، حالا تصمیم گرفته شده است. یا برخی از وزرا که در جلسه اول و دوم نبوده‌اند و به جای آن‌ها معاونان‌شان آمده بودند و موضوعات را با وزیر شریک نساخته‌اند، در جلسه سوم، وزیر موضوعی را مطرح می‌کند که در جلسات قبل به آن پرداخته شده است، در این‌صورت رئیس جمهوری می‌گوید که نماینده وزارت‌تان بوده، این‌که معاون با تو مشکل دارد و موضوع را در میان نگذاشته است، مشکل خودتان است.»

آقای مرتضوی به این نظر است که در مواردی وزیر، معاون خود را در جریان امور قرار نمی‌دهد و در مواردی هم برعکس. کار تیمی وجود ندارد. مشکلی که آقای غنی آن‌را تا حدودی حل کرده است.

با توجه به سهمیه‌ای بودن حکومت وحدت ملی، به احتمال زیاد، آقای غنی ناگزیری‌های جدی‌ای داشته است.

به گفته آقای مرتضوی: «در پنج سال گذشته ۱۱۰ وزیر تبدیل شده‌اند. نبود ثبات در ادارات یک مشکل است. وزرایی داشتیم که چهل روز وزیر (سرپرست‌وزیر) بودند. برخی سه ماه، و شماری هم کمتر از این مدت وزیر بودند. تا وزیری می‌آمد کاری را شروع کند، برکنار می‌شد و نفر دیگری به جایش می‌آمد. مشکل کجاست؟ وقتی (معرفی) وزرا سهم افراد باشد، حکومت (به علت توافقی که با آن‌ها دارد) ناگزیر است که انتخاب آن‌ها را قبول کند. اما آن فرد واقعاً توانایی دارد؟ ندارد. در نتیجه پارلمان (مجلس نمایندگان) یا حکومت درباره‌اش تصمیم می‌گیرند. در همین تعداد ۱۱۰ وزیر، شماری از وزرای آقای غنی هم بوده‌اند که برکنار شده‌اند. تنها از آقای عبدالله نبوده است.»

یکی از وزرا گفت:» از شروع حکومت وحدت ملی تا امروز حکومت آقای غنی مثل «یک ملی‌بس» بوده است که از ایستگاه اول حرکت کرده و رسیده به ایستگاه فعلی و در این میان کم‌کم افراد از ملی‌بس پایین شدند؛ تعدادی از نیمه راه و برخی هم در ایستگاه‌های متفاوت. اما شماری از اول تاکنون در چوکی و جای خوبی نشسته‌اند.»

این همان «حلقه کوچک» آقای غنی است و به تعبیر یکی از اعضای کابینه: «بله‌گویان‌های آقای غنی».

فردین هاشمی، رئیس مرکز مطالعات توسعه افغانستان و استاد دانشگاه کابل بدین باور است که عناصر متعدد در رفتار آقای غنی با اعضای کابینه‌اش دخیل است.

او می‌گوید: «به باور من وقتی در مورد عملکرد آقای غنی در ارتباط به اعضای کابینه صحبت می‌شود، سه عنصر دخیل است. یکی نگاه تیمی که آقای غنی داشته، یکی نگاهی که می‌شود گفت ریشه‌های قومی مثل هر فردی که در افغانستان زندگی می‌کند، بخشی از رفتار سیاسی آقای غنی را تشکیل می‌دهد و در کنار آن عنصر دیگری که به نظرم مهم است، دیدگاهی است که آقای غنی برای توسعه در افغانستان داشته که تا حدودی با خیلی از نخبه‌های دیگر متفاوت بوده است. بنا می‌شود گفت که یک نوع تناقض در این رفتار وجود دارد و در بعضی از مواقع خود را به شکل برخورد با اعضای کابینه نشان می‌دهد. در عین زمان برداشتی که آقای غنی از اعضای کابینه داشت، به باور من در خیلی از موارد بحثی بود که در خصوص توسعه افغانستان شاید وزرا آن خواسته‌های آقای غنی را نمی‌توانستند برآورده بسازند.»

آقای هاشمی می‌افزاید: «بنا از سه منظر باید به این رفتار توجه شود، یکی رفتاری که تیم سیاسی آقای غنی نسبت به آقای عبدالله داشته، عناصر قومی که طبیعتاً هر افغان متناسب با شرایطی که در زندگی خود داشته، از عناصر قومی در رفتار و تفکر سیاسی‌اش متاثر است که آقای غنی هم از این امر مستثنی نیست و در عین زمان نگاهی که آقای غنی به عنوان یک تحصیل‌کرده و چهره اکادمیک در بحث توسعه در افغانستان داشته، فکر می‌کنم بعضی از وزرا آن خواسته‌ها و نیازهای کلانی را که آقای غنی مطرح می‌ساخته در این شرایط افغانستان، نمی‌توانستند برآورده کنند. به نظرم مجموع اینها رفتار آقای غنی را در کابینه شکل داده و مهم است.»

به باور شجاع‌حسین محسنی، کارشناس مسائل سیاسی و استاد دانشگاه این روایت‌ها واقعیت دارد؛ چنین رفتارهایی می‌تواند تابع دو عامل باشد: «یکی این‌که آقای غنی شخصیت اقتدارگرا دارد، در برابر فرادست وقتی زیر فشار قرار گیرد، به راحتی امتیاز می‌دهد، اما وقتی فشاری در کار نباشد، شدیداً فردمحور عمل می‌کند. عامل دوم این است که او معتقد است در کابینه‌اش به آقای عبدالله و سران جهادی و قومی باج داده و بخشی از اختیارات قانونی‌اش را واگذار کرده است. از این جهت با این رفتارها از رقبای باج‌گیر خود انتقام نسبی می‌گیرد.»

سئوال بعدی من این بود که رفتار اخلاقی آقای غنی با وزرا چگونه بوده است؟ چرا که می‌تواند بر روابط وزیر با رئیس جمهوری آن‌هم با ویژگی حکومت وحدت ملی تأثیر مستقیمی‌بگذارد.

عبدالرزاق وحیدی، وزیر مخابرات حکومت وحدت ملی تعریف کرد: «یک روز طرح بسیار خوبی را در نشست تدارکات ملی ارائه کردم. درباره‌اش بحث شد و طرح با استقبال اعضای کابینه مواجه شد. دفعتاً آقای غنی کار عجیبی کرد؛ دست برد داخل جیبش و کاغذی را بیرون... صفحه ۳

# اشرف غنی با وزرای...

کرد و گفت وزیر! متوجه باش که اسناد فساد اداری‌ات در جیب من است. این جمله را با حالت تهدید و خشم گفت. در صورتی که من توقع داشتم تشویق شوم نه تهدید. من خود را نباختم و گفتم که اسناد را در جیب‌تان نگه دارید و به نهادهای قضایی بدهید، جلسه امروز در رابطه با این موضوع نیست.»

آقای وحیدی علاوه بر این که از اتهام حیف‌ومیل میلیون‌ها افغانی زمانی که وزیر مخابرات بود، تبرئه شد، بلکه در رابطه با اتهام سوءاستفاده از صلاحیت وظیفه‌ای در زمانی که معین وزارت مالیه بود نیز بی‌گناه شناخته شد.

در گفت‌وگو با یازده عضو کابینه آقای غنی بیشتر آن‌ها داستان‌هایی از «رفتار دور از شأن با یک وزیر» قصه کردند.

از جمله یکی از آنها گفت: «در جلسه‌ای، شماری از شاکی‌های بخش خصوصی یک سکتور حضور داشتند. آقای غنی با دقت به صحبت‌های آن‌ها گوش کرد و وقتی گپ‌های‌شان تمام شد، نوبت به وزیر مربوطه رسید تا صحبت کند. قبل از آن‌که وزیر حرف بزند، آقای غنی با صدای بلند گفت: «وزیر صاحب! مراقب باشی که دروغ نگویی، وگرنه از جلسه بیرون می‌شوی.»

به گفته راوی داستان بالا که از مجلس نمایندگان با رای زیاد وزیر شده بود، آقای غنی از وزرایی که «خوش نبود»، در صدد آن بود که در جلسات کابینه فرصتی به دست بیاورد تا علیه آن‌ها انتقاد و برکنارش کند. او از وزیری که خوش نبود، دستور می‌داد: «هر چقدر اسناد که دارید از این وزیر برایم بیاورید.»

این وزیر گفت: «شاهد بودم که یکی از وزرا را در جلسه ویدیویی فحش داد. وزیر هم استعفا داد.»

به گفته او: «برخورد آقای غنی، سرکوب گرایانه بود. حتی اگر شما درباره ویروس کرونا هم چیزی بدانید، نمی‌توانید بگویید که از رئیس جمهوری بیشتر می‌دانید، ولو اگر داکتر متخصص و وزیر صحت باشید.»

داستان دیگری را که یکی از این یازده عضو کابینه برای من تعریف کرد، این‌گونه بود: «در یک جلسه که سفرا و رئیس یوناما/ نمایندگی سیاسی سازمان ملل متحد در افغانستان حضور داشتند و گوشی ترجمه هم‌زمان هم در گوش مهمان‌ها بود، آقای غنی درباره موضوعی بر سر یک معین/معاون وزارت عصبانی شد و گفت: «خودت همین حالا برطرف هستی و دیگر معین نیستی.» آن معین از شروع جلسه تا آخر جلسه محترمانه نشست و جلسه را ترک نکرد. حدود چهل نفر در جلسه حضور داشتند. مدتی بعد به جایش، فرد دیگری معرفی شد.»

برخی از برخوردهای رئیس جمهوری افغانستان با وزرایش آن‌طور که اعضای کابینه‌اش تعریف کردند، عجیب به نظر می‌رسد. مثلاً یکی از آن‌ها گفت: «در یک مورد بر سر وزیری (نام وزیر را گفت) عصبانی شده بود که چرا برنامه وزارتش را نیاورده است؟ این در حالی بود که آن وزیر یک هفته قبل طرح را به دفتر ریاست جمهوری داده بود و آقای غنی خبر نداشت. وزیر پاسخ داده بود که من یک هفته قبل طرح را آوردم. آقای غنی که جا خورده بود، گفته بود: تو . . . خوردی.»

همین عضو کابینه افزود: «از دست یک جنرال عصبانی شده بود، به او گفته بود: اگر آمدم تنبانت را می‌کشم. تا به حال همان جنرال بیکار است.»

او می‌گوید: «گاهی هم شده است که از یک وزیر پیش دیگران معذرت خواسته است، اما بعداً به نحوی به حسابش رسیده است. حس خودخواهی هم دارد. یک‌بار رئیس آی‌اس‌آی (بخش استخبارات ارتش پاکستان) به آقای غنی گفته بود که کاش ما هم مثل شما رهبر می‌داشتیم، آقای غنی این گپ را چند بار به دیگران گفته بود که شما قدر من را نمی‌دانید، رئیس آی‌اس‌آی درباره من چنین گفته است.»

یکی از وزرایی که سال‌ها با آقای غنی کار کرده بود، تعریف کرد: «یک روز جلسه‌ای در قصر سپیدار به ریاست آقای عبدالله بود و جلسه دیگری هم در ریاست جمهوری به ریاست آقای غنی. در یکی از وزارت‌ها، بین وزیر و معاون موضوع این بوده که کدام یک از آن‌ها به کدام جلسه برود. هیچ یک از آن دو نفر علاقه نداشتند که به ریاست جمهوری بروند، هر کدام‌شان می‌گفتند که به سپیدار من می‌روم. در نهایت وزیر به معاون گفته بود که پنج هزار افغانی می‌دهم، تو به جلسه غنی برو.»

سرپرست یکی از وزارت‌ها گفت: «در جلسات کابینه در مورد برخی موضوعات نیاز بود بیشتر صحبت کنم و همچنین از وزرایی که برنامه‌های‌شان را شرح می‌دادند، سئوال می‌پرسیدم. مدتی بعد یکی از وزرای با سابقه گفت که مراقب باش زیاد گپ می‌زنی و رئیس جمهوری بی‌آبت می‌کند. بعد از آن خیلی محتاط شدم.»

«تمام برخوردها به کار ربط دارد و شخصی نیست»

برخلاف این‌ها لعل‌الدین آریوبی، وزیر دولت در امور شهدا و معلولین در کابینه قبلی می‌گوید: «آقای غنی در نشست‌ها بسیار برخورد صمیمی دارد، اما در مواردی که فساد صورت گرفته باشد، جدیت نشان می‌دهد. تمام برخوردهای رئیس جمهوری به کار ربط دارد. واکنش تند آقای غنی، برخورد کاری است و نه شخصی. او به وزرا احترام می‌گذارد. گاهی فکر می‌کنید که رئیس جمهوری نیست و یک دوست است.»

به نظر شاه‌حسین مرتضوی، مشاور آقای غنی برخورد تند او با وزیران، به خاطر عملکرد نامناسب و ضعیف خود وزیران است. «برخی وزرا وعده‌های آقای غنی به مردم و همچنین رهنمودهای او را پیگیری نمی‌کنند. چون فرهنگ پیگیری و تعقیب وجود ندارد. (گاهی در واکنش به رفتار یک وزیر) رئیس جمهوری با تندی گفته که اگر این کار نشود، دیگر تو در وزارت نیستی. حتی با شوخی در حضور وزرا گفته که کابینه ما مثل موتر/ماشینی است که در گل بند مانده است، کمی من باید آن‌را بکشم و کمی هم شما (وزیران) هل بدهید. رئیس جمهوری به برخی از وزرا گفته که من سکرتر/ منشی شما نیستم که همه کارها را شخصاً پیگیری کنم.»

آقای مرتضوی تعریف می‌کند: «هند یا قزاقستان به افغانستان گندم کمک کرده بود. چند وزیر بسیار با ادعا رفته بودند و گندم را رد کرده بودند. در حالی‌که کیفیت گندم خوب بود. حتماً توطئه‌ای بود که شاید آن گندم رایگان را نگیرند و گندم خریداری شود تا فایده‌ای برای‌شان داشته باشد. رئیس جمهوری در شورای عالی اقتصاد از آن‌ها پرسید که چرا گندم کمک‌شده را رد کردید؟ (مقام‌های) کشور کمک‌کننده واقعاً ناراحت شدند. یکی از آن وزیران پاسخ داده بود، چون گندم بی‌کیفیت بود و سیاه‌دانه داشت و فلان داشت، آن را رد کردیم. آقای غنی گفت تو گندم را به لابراتوار بردی؟ گفت: نه صاحب. رئیس جمهوری در واکنش گفته بود پس با کدام سند گفتی که گندم بی‌کیفیت بوده؟ وزیر پاسخ داده بود: «رئیس صاحب، گندم را در کف دستم مالیدم و فهمیدم که بی‌کیفیت است. آقای غنی هم گفته بود در همین شرائط، مالیدن گندم در کف دست می‌تواند ملاک تعیین کیفیت گندم باشد؟»

از دید شاه‌حسین مرتضوی رفتارهای این‌چنینی برخی از وزرا، واکنش تند رئیس جمهور را در پی داشته است، اما او «هیچ‌گاه به وزیری توهین نکرده است.»

آن‌چه واضح است این است که سهمیه‌ای‌بودن کابینه قبلی بخشی از منشأ مشکلات آن بوده است؛ مشخصه‌ای که در کابینه فعلی نیز دیده می‌شود.

# په دوحه او کابل کې پر اجنډا کشمکش؛

## افغان حکومت له یوې واحدې طرحې سره د ترکیې په غونډه کې ګډون کوي



د ترکیې د کنفرانس له رانږدې کېدو سره هممهاله په هېواد کې هم د دغې غونډې د بریا لپاره چټکې هڅې روانې دي. د ملي مصالحې عالي شورا، ملګري ملتونه، نړیوال بنسټونه، د افغان حکومت مذاکراتي پلاوی او د سولې په چارو کې د دولت وزارت دمګړی د طرحو پر توحید او یوې یوازینۍ طرحې پر جوړولو کار کوي او هڅه کېږي د روانې جګړې د ختمولو لپاره ټول وړاندیزونه په نظر کې ونیول شي. بلخوا نړیوالې رسنۍ بیا وایي، چې ښایي بایډن د جګړې د نه ختمېدو له امله دلته د خپلو سرتېرو حضور ډېر کړي، هغه څه چې ښایي دلته د جګړو د دوام سبب شي.

ټاکل شوي چې د روانې اپریل میاشتې په ۱٦مه په ترکیه کې د افغان سولې په اړه مهمه غونډه جوړه شي. رسنۍ وایي چې دغه غونډه به پوره لس ورځې دوام کوي او پکې به د افغانستان د جګړې د ختمولو لپاره کوښښ کېږي. له شاوخوا دوو اونیو راهیسې په دوحه کې د دې غونډې لپاره د چمتووالي په موخه شپږ اړخیزې غونډې روانې دي او هڅه کېږي چې د دې غونډې لپاره اجنډا، ارزښتونه او اصول جوړ شي. بلخوا دلته په کابل کې هم د دې غونډې لپاره تیاری روان دی او د ملي مصالحې عالي شورا پر دې کار کوي چې څنګه وکړای شي له یوې واحدې طرحې سره د استانبول په غونډه کې ګډون وکړي.

د ملي مصالحې عالي شورا تېره ورځ هم له نړیوالو بنسټونو، د سولې په چارو کې د دولت له وزارت او د افغان حکومت د مذاکراتي پلاوي له مشر معصوم ستانکزي سره غونډه لرله. په دې غونډه کې د ترکیې پر کنفرانس او دغه راز د دې غونډې لپاره د یوې یوازینۍ طرحې پر جوړولو خبرې شوې دي. د ملي مصالحې عالي شورا له لوري په خپره شوې اعلامیه کې د ډاکټر عبدالله عبدالله له قوله راغلي، چې د یوې یوازینۍ طرحې د جوړولو لپاره هڅې روانې دي. د ده په خبره:«هڅه کېږي، چې د افغانستان اسلامي جمهوري دولت پلاوی ټولشموله وي او د ترکیې ناستې ته د واحد نظر سره ګډون وکړي».

ډاکټر عبدالله عبدالله په دې غونډه کې چې د نړیوالې ټولنې او سیمه ییزو هېوادونو استازي هم پکې وو، د افغان سولې په اړه سیمه‌ییزه او نړیواله اجماع خورا مهمه بللې او په دې برخه کې یې له مرسته کوونکو هېوادونو مننه کړې ده. د ډاکټر عبدالله عبدالله په وینا، څومره چې د افغان سولې په اړه سیمه‌ییزه او نړیواله اجماع پیاوړې کېږي، همدومره افغانان سولې ته نږدې کېږي. ډاکټر عبدالله د سولې په اړه وروستۍ نړیوالې هڅې مهمې وبللې او په خبره یې، دا هر څه په دې مانا دي چې نړیوال له افغان سولې سره همکار دي. د ده په وینا: «د سولې په برخه کې د همکارۍ له امله د سیمې له هېوادونو او نړیوالې ټولنې مننه کوو، دوی د سولې د راتګ لپاره هڅه کړې ده».

نړیوالې ټولنې هم په دې غونډه کې ژمنه کړې چې له افغان سولې سره به همکاري کوي. د سیمې د هېوادونو ځینو سفیرانو له ډاکټر عبدالله عبدالله سره په خبرو کې ډاډ ورکړی، چې د استانبول په غونډه کې به د افغانستان له سوله‌ییز دریځ ملاتړ کوي. ډاکټر عبدالله عبدالله بیا تمه ښودلې چې د ترکیې غونډه په افغانستان کې د روانې جګړې د ختمېدو او دلته د دایمي سولې د راتګ سبب شي.

بلخوا په دوحه کې ځینې سرچینې وایي چې د افغان حکومت او طالب پلاوي ترمنځ له څو اونیو راهیسې د ترکیې د غونډې په اړه بحثونه روان وو، چې د ځینو هېوادونو استازو هم پکې حضور درلود، خو دواړه لوري د اجنډا پر جوړولو بریالي شوي نه دي، چې له همدې امله د افغان سولې په برخه کې د امریکا د بهرنیو چارو وزارت ځانګړي استازي زلمي خلیلزاد دوی ته تیاره جوړه شوې طرحه سپارلې او له دواړو لورو یې د عملي کولو غوښتنه کړې ده. د دې طرحې په اړه لا ډېر جزیات نه دي خپاره شوي.

# امریکا: له ایران سره به د اټومي تړون پر سر خبرې ستونزمنې وي او ښایي ژر پایله ونه لري

په ویانا کې د ایران او د نړۍ د پیاوړو قدرتونو ترمنځ د خبرو د ځای او څرنګوالو په اړه تازه جزیات خپاره شوي دي. د امریکا د بهرنیو چارو وزارت ویاند نېډ پرایس په واشنګټن کې خبریالانو ته ویلي، چې د ویانا په خبرو کې به د ایران لپاره د امریکا ځانګړی استازی د امریکایي پلاوي مشري کوي. ټاکل شوي چې برېټانیا، چین، فرانسه او جرمني به هم په دغو خبرو کې برخه واخلي.

ویل کېږي چې دغه هېوادونه به هڅه کوي، چې امریکا بېرته له ایران سره شوي توافق ته راوګرځوي او دغه راز به له ایران څخه دا ژمنه اخلي چې اټومي تړون عملي کړي.

د راپورونو له مخې، دوه ځایونه د دغو خبرو لپاره ټاکل شوي؛ یو د اتریش په مرکز کې د امپریال هوټل دی او بل یې په ویانا کې د ګرند هوټل دی.

د امریکا غړ خبریال دغو هوټلونو ته، چې له یو بل سره نږدې دي، د پلاویو تګ راتګ لیدلی دی، خو تر دې دمه دا ځایونه په رسمي ډول د خبرو لپاره اعلان شوي نه دي. تر اوسه معلومه نه ده چې د ایران له لوري څوک په دغو خبرو کې برخه اخلي.

د امریکا د بهرنیو چارو وزارت ویاند وایي، چې په دغو خبرو کې به پر دې بحث کېږي، چې ایران اټومي تړون ته د ژمن پاتې کېدو لپاره کومو اقداماتو ته اړتیا لري او امریکا په ایران باندې کوم لګول شوي بندیزونه لېرې کړي چې بېرته تړون ته ور وګرځي.

یاد امریکایي چارواکي ویلي، له ایران سره د ۲۰۱۵ میلادي کال د اټومي موافقې د احیا په اړه خبرې به ستونزمنې وي او د سمدستي پرمختګ احتمال نه ورته ښکاري.


هغه ویلي، امریکا به د مخکني ولسمشر ډونالډ ټرمپ له لوري لګول شوي بندیزونه بیا ارزوي. دا په داسې حال کې ده چې ورمه ورځ د ایران د بهرنیو چارو وزارت ویاند وویل چې امریکا باید پر ایران لګول شوي بندیزونه په یو ځل لېرې کړي، ځکه د نوموړي په خبره، د بندیزونو مرحله په مرحله لرې کول ورته د منلو نه دي. د ایران د نړۍ د لویو قدرتونو دا ناسته داسې مهال ترسره کېږي، چې د امریکا مخکني ولسمشر ډونالډ په خپله دوره کې امریکا په یو اړخیز ډول د ایران او د نړیوالو قدرتونو ترمنځ د ۲۰۱۵ ز کال له اټومي تړونه و ایستله او پر دغه هېواد یې بېرته اقتصادي بندیزونه ولګول.

## د کتــاب خبــرې

# د جاسوسی پېښلړ
# RAW, ISI
# او د سولې وهم

◎ لیکوالان: اې. اېس دولت، اسددورانی او ادېتیا سېنها
◎ ژباړه: د اکسوس د ژباړې بورډ

### پنځمه برخه
### حساسې شېبې




دورانی: کله چې زرداري وويل، پاکستان هم باید NFU پالیســي وکاروي، یو چا ورته وويل، زرداري صېب، ته باید د هستوي معاملو په اړه کمېسیونونه ولرې، د هستوي دوکتورینو په اړه دې څه اورېدلي، که نه؟

د دوی سیاسي پیغام گډوډي، لمسون او تشویش پیدا کولی شي. پاریکار هغه وخت هم و وېرولو چې ستاسو د پوځ رئیس بدل شو، چې گواکې بیا د Cold Start په اړه خبرې کوئ. دا خبرې ښایي تل تر تله وي. خو متخصصین وايي، چې په همداسې شرایطو کې همداسې بیانیې ته اړتیا وه. داسې بیانیه د هند او پاکستان اوسنۍ خرپړتیا نوره هم ډېروي. خو بېرته ختمېږي. ځکه چې ستونزه دومره هم لویه نه وي، لکه خلک چې باور لري.

سېنها: نو اوسنی طبیعي حالت همداسې طبیعي پاتې کېږي او ټول هم د هر څه په کیسه کې نه دي.

دورانی: بلاخره د هر هېواد یوازې کورنی سیاست مهم دی. د سپټمبر ۱۱مې پېښې ته د امریکا غبرگون پر افغانستان یرغل و، چې موخه یې په کورنۍ کچه د غبرگونونو ختمول و. امریکایانو د وینې تویول غوښتل، نو یوه نمایشــي برید دوی راضي کړل. پاکستانیانو د اسامه بن لادن د نیولو وړاندیز وکړ او ددې کار لپاره یې وخت ترې وغوښت، که همداسې شوي وای امریکایانو باید یرغل نه وای کړی، خو دې کار د امریکا خلکو ته قناعت نشوای ورکولی.

سېنها: جنرال صېب، تاسو خو د ٦٥ او ٧١ کلونو په جگړو کې وئ. په همدې ورځو کې دې د هند په اړه څه فکر کاوه؟

دورانی: د پوځیانو په اړه سوءتفاهم موجود دی، خلک فکر کوي دا چې پوځیان یو له بل سره جگړه کوي، نو دوی به د یوه او بل سرسخت دښمنان وي.

یو ځل د امریکایانو یو پلاوی زموږ د روزنې د دوکتورینو د کتو لپاره راغلی و. کله چې مې په ISI کې دنده ختمه شوه، زه GHQ ته د روزونکو د رهبرۍ لپاره لاړم. یوه لیدونکي پوښتنه وکړه چې که مو درسي پروگرام ته «له هند سره نفرت» هم ور ډېر شي، ښه به نه وي؟ ما ورته و ویل، چې زموږ پوځیانو ته دا ورښودل کېږي چې یوازې په خپل وخت کې جگړه وکړئ، خو دا مو هم په یاد وي چې مقابل لوری مو هم خپل هېواد ته ستاسو غوندې دنده ترسره کوي. همدا زموږ د روزنې دوکتورین دی. زه په غوسه وم او ورته مې ویل چې یوازې امریکایان ورته وايي چې «د امریکا متحدو ایالتونو دښمنان ټول ووژنئ»، نور ټول ورته وايي چې د خپل هېواد دفاع وکړئ.

تاسو (هندیان) هم پوځیانو ته همدا روحیه ورکوئ.

زموږ پوځونو ته دا ورښوول کېږي چې تاسو باید جگړه وکړئ، که تاسو ونه کړای شوه، مقابل لوری به یې وکړای شي. خو پام مو وي، کله چې دښمني ختمه شي، ببرغونه سره نږدې کېږي، او تاسو هم باید یو ځای ټوکې سره وکړئ او یو ځای چای او قهوه سره وڅښئ.

دولت: زه د شمالي هند اوسېدونکی یم، په پوځ کې مې ډېر دوستان او خپلوان دي. ځوانان جگړې ته ډېر لېواله وي، خو زړ پوهېږي چې هېڅوک هم جگړه نه غواړي، جگړه ډېر بد کار دی. جگړه ذهن ته سخت ټکان ورکوي.

د تره زوی مې په ٦٥ کال کې په چمب کې و او کله چې کور ته راغی، رواني ناروغي یې لرله. کیسه یې کوله چې مرمۍ مې په خولۍ کې ولگېدله. په ځینو ځایونو کې به لاس په لاس جگړه وه. کیسه یې کوله چې یو ځوان پاکستانی پوځي، چې دویم بریدمن هم و، وژل شوی و، د هغه په جېب کې مې د هغه د کوژدنې لیک پیدا کړ، او زیاته یې کړه چې له همدې پېښې وروسته مې څو شپې خوب نه دی کړی. د تره زوی مې چې له جگړې را وگرځېد دوه اونۍ له موږ سره یو ځای اوسېده. د هغو وحشتونو له کبله چې لیدلي یې وو د شپې به په خوب کې گرځېده.

په حقیقت کې جنرالان جگړه نه غواړي. له همدې کبله د هند او پاکستان د جنرالانو او یا پوځونو تر منځ مخامخ خبرې اترې مهمې دي. له همدې کبله زه دا هم وایم، چې د استخباراتو رئیسان هم باید خبرې سره وکړي، ځکه ډیپلوماتیکې خبرې مو نشي سره نږدې کولی.

دورانی: سم وايې.آن د پوځ زده کړه هم په همدې توگه ده. په پایله کې، که خپله دنده سمه ترسره کړئ، د پوځ له کارولو پرته به خپلو موخو ته ورسېږئ. د پخوا په پرتله اوس جگړه ډېرې ورانۍ او خرابۍ کوي. مخکې به سلگونه او یا زرگونه کسان وژل کېدل، خو اوس ښارونه ویجاړېدای شي. د سانتزو له وخت راهیسې اوس تر ټولو غوره پوځي ستراتېژي، له جگړې پرته موخې ته رسېدل دي. په اوسني وخت کې یو ښه هېواد همدا خبرې ټولې عملي کوي.

دولت: ښه جنرالان هم همدا خبرې عملي کوي.

**دوام لري...**

# بریالی فکر او عمل

اکسوس کتابپلورنځی

«بریالی فکر او عمل» د سټیوهاروې کتاب دی، چې تازه پښتو ته ډېوې وردگ ژباړلی او همدا پښتو بڼه یې په ١٦٦ مخونو کې راټوله شوې ده. د کتاب لومړۍ برخه په دې اړه ده چې په اوسنیو شرایطو کې څنگه واقعبین اوسېدای شو. باید له ځان سره په قاطع توگه رښتیني و اوسو، څو خپله وېره او محدودیتونه له ځان لرې وغورځوو، له مخې مو خنډونه لرې او له ژوند څخه پوره خوند واخلو.

دویمه برخه ستاسو مرستې ته را دانگي، څو خپلې وړتیاوې او استعدادونه مو وپېژنی. کله مو چې خپلې وړتیاوې او استعدادونه وپېژندل؛ نو له دغو وړتیاوو سره سم تاسو ته مناسب وسایل وړاندې کوي، څو په ژوند کې کار ترې واخلی او خپل ژوند مو بدل کړی. دا بیا هغه وخت دی چې تاسو هماغه کار چې مینه ورسره لری او خوند درکوي، تر سره یې کړئ. کله چې په خوښۍ او مینه کار وکړی؛ نو همدلته ده چې ستاسو په ژوند کې مثبت بدلونونه رامنځ ته کېږي.

لومړنی بدلون ستاسو په داخل کې تر سره کېږي. تاسو له ځانه وړانگې خپروی، چې د یوه مقناطیس په څېر نور بریالي او روڼ اندي کسان ستاسو خوا ته را جذبوي. تاسو د یوه بریالي تفکر قلمرو ته دننه کېږئ.

وروسته له دې چې ستاسو وړتیاوې او استعدادونه په یوه مناسب مرکب سره سمبال شي، باید په خپل تخصصي جوړښت گوتې ووهئ، منظم او جوړ یې کړئ، څو ښې لاسته راوړنې ولری.

درېیمه برخه د وړتیاوو د زیاتولو ځینې لارې او طریقې وړاندې کوي. په دغه څپرکي کې ستاسو د وړتیاوو او مهارتونو د ودې او تقویې لپاره مهم او ارزښتمن توکي او معلومات وړاندې شوي دي. په دغو معلوماتو کې د موخې د ټاکلو او همدارنگه ستاسو له وړتیاوو سره د موخې د اړیکې او تړاو په اړه ځینې سپارښتنې شاملې دي. دا علمي سپارښتنې په اصل کې هغه څه دي، چې ډېر ژر یې په خپل ژوند کې عملي او تر سره کولای شی. ښایي د وړتیاوو پېژندل او په اړه یې لاس پکارېدل، سملاسي ستاسو ژوند بدل نه کړي؛ خو لړترلږه ستاسو دغو ړتیاوو ته مانا او مفهوم وربښلای شي.

«د بریالي فکر او عمل» کتاب په انگېزه ښنونکو خبرو پای ته رسېږي، څو تاسو راوپاروي چې خپله پوهه او وړتیاوې له نورو سره شریکې کړی. دا برخه پر درېو اړینو موضوعاتو ولاړه ده: د ځان پرمختگ او له بریالیو کسانو څخه د کرکې حس له منځه وړل، له یوه متوازن ژوند څخه د برخمن کېدو اساسي ټکي موندل او درېیم دا چې نورو




ته اجازه ورکړو، څو زموږ له وړتیاوو گټه واخلي.

د لیکوال په خبره، دا کتاب مې د دې لپاره نه دی لیکلی چې ویې لولی، په یوه گوښه کې یې کېږدی او هېر یې کړی. اړینه دا ده چې سملاسي لاس پکار شئ. په دغه کتاب کې مې ځینې تمرینونه هم را اخیستي، څو د هغو پر اساس خپل افکار، هڅه او الهامونه ولیکئ. تاسو به د لیکلو د تمرین په وسیله د خپل بریالیتوب علمي نقشه انځور کړئ، چې دا وخت بیا کولای شی لکه څرنگه چې د خپلو وړتیاوو او استعدادونو رمزونه پرانیزی، همداسې پر دغه نقشې هم تکیه وکړئ او له همدې نقشې څخه په استفادې پرمخ ولاړ شی.

مینه وال کولای شي یاد کتاب پر اکسوس سرېېره، د ښار له نورو لویو کتابپلورنځیو هم په مناسب قیمت تر لاسه کړي.

## روانه اونۍ اکسوس کتاب پلورنځي ته تازه راغلي کتابونه

| شمېره | د کتاب نوم | لیکوال / ژباړن | بیه |
|---|---|---|---|
| ١ | انساني څېرې او ناوړه کړنې | محمدیوسف روف | ١٥٠؋ |
| ٢ | تجارت قرن ٢١ | رابرت تی کیوساکی/محمدعلی عزیزی | ١٥٠؋ |
| ٣ | ذهني انځورونه | محمدیوسف روف | ٧٠؋ |
| ٤ | د ژوند لار | ډیل کارنگي/محمدابراهیم شینواری | ١٥٠؋ |
| ٥ | برمودا مثلث او دجال | عاصم عمر/عمران لمر | ٢٠٠؋ |
| ٦ | روش تحقیق در علم حقوق | میراخان قضاوی | ١٣٠؋ |
| ٧ | کوه نور (د نړۍ تر ټولو بدنام الماس) | ویلیم ډالر بمپل انیتا انند/طاهر صاحبزاده | ٢٠٠؋ |
| ٨ | AFGHANISTAN WHAT EVERYONE NEEDS TO KNOW | BARNETT R. RUBIN | ٢٧٠؋ |
| ٩ | GOOD ECONOMICS FOR HARD TIMES | ABHIJIT V. BANERJEE | ٢٣٠؋ |
| ١٠ | HOW NATIONS SUCCEED | NURAT A. YULEK | ٢٥٠؋ |
| ١١ | ارتباطات سیاسی | عبدالقهار سروری | ١٢٠؋ |
| ١٢ | ارتباطات انسانی | عبدالقهار سروری | ١٢٠؋ |
| ١٣ | روش شناسی تحقیق | عبدالقهار سروری | ٧٠؋ |
| ١٤ | نقش رسانه ها و روابط عمومی در مدیریت بحران ها | جاویده احمدی | ١٨٠؋ |
| ١٥ | سروی در راه سازی | محمداشرف قاضی‌خانی | ٣٠٠؋ |
| ١٦ | سنجش مصارف | نذیر احمد شهیدی | ٢٠٠؋ |
| ١٧ | مسایل بین المللی پول | نذیراحمد شهیدی | ١٨٠؋ |
| ١٨ | بانک سوالات برق | عبدالناصر کاظمی | ٢٠٠؋ |
| ١٩ | اروپوهنه د ټولو لپاره | مصطفی صفا | ٢٠٠؋ |
| ٢٠ | کاملترین مجموعه و سوالات ستاژ | محب الله راشد | ٣٢٠؋ |
| ٢١ | ارتباطات سازمانی | عبدالقهار سروری | ٨٠؋ |
| ٢٢ | د اسلامي بانکوالۍ بنسټونه | محمدتقی عثمانی مدظله/شیراغا کریمي | ١٨٠؋ |
| ٢٣ | عقاید اسلامی جزء اول | داد محمد نذیر | ٢٥٠؋ |
| ٢٤ | عقاید اسلامی جزء دوم | داد محمد نذیر | ٢٥٠؋ |
| ٢٥ | عقاید اسلامی جزء سوم | داد محمد نذیر | ٢٣٠؋ |
| ٢٦ | عدم تشدد (څلور رهبران یوه لار) | ایمل همدرد | ١٤٠؋ |
| ٢٧ | تاریخ معاصر افغانستان (از دوره احمدشاه ابدالی الی اکنون) | اکبرجان آرزومند | ٢٠٠؋ |
| ٢٨ | تفسیر معارف القران پښتو بشپړ متن ١٠ ټوکه | مولانا مفتی محمدشفیع | ١٨٠٠؋ |
| ٢٩ | جنایي اروپوهنه | شراف الدین عظیمي/صفی الله ناصري | ١٥٠؋ |
| ٣٠ | دژوند مهارتونه (د ځیرکانه ژوندانه ١١٦ گټورې تگلارې) | ارنولډ لازاروس، کلیفورډ لازاروس/حمیدالله حمیدي | ١٨٠؋ |

**په خپل کور او کار ځای کې د کتابونو د تر لاسه کولو لپاره له لاندې شمېرو سره اړیکه ونیسئ**

پته: دهبوریو پارک جنوبي دروازې ته مخامخ    اړیکه: 0798-98-9696 - 0202504652

## اقتصاد

### د اسعارو بيې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۷,۵ |
| € | ۹۱ |
| Rp. | ٤۹۷ |
| ₹ | ۱۰۷۰ |
| ¥ | ۱۱ |
| £ | ۱۰٦,۱ |

### بيړنۍ شميرې

پولیس
119 - 100

امبولانس
112

اتاترک روغتون
0202500312

ملالی زېږنتون
0202201377

وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360

رابعه بلخي روغتون
0202100439

د کرونا روغتیایي مرکز
166

همیانی

# ماشومان څنګه مطالعې ته وهڅوو؟

ژباړه: عطامحمد میاخېل

څېړنو ښودلې، ډېرى هغه کسان چې له کتاب او کتاب لوستلو سره مينه او لېوالتيا لري، داسې مور او پلار لري چې د ماشومتوب په دوران کې يې هغوی ته د کيسې ويلو پر مهال ښې او خوږې شېبې جوړولې. که مو خوښېږي چې ماشوم مو کتاب لوستونکی شي، بايد داسې يو کار تر سره کړئ، څو مطالعه د هغه له نظر يوه برياليۍ او خوندوره تجربه وي. هڅه وکړئ چې هره ورځ يا لږترلږه په اونۍ کې څو ځله خپل ماشوم ته کتاب ولولئ او دا کار مو عادت وګرځوئ.

په هغه صورت کې چې ماشوم مو له کتاب لوستلو سره مينه نه لري يا تاسو د مور او پلار په توګه د ورځې په اوږدو کې دې کار ته وخت په پام کې نيسی، موږ په دې مقاله کې درته هغه اغېزمني لارې چارې ښيو چې تاسې دا چاره په برياليۍ توګه تر سره کړی.

۱ - داسې کتابونه وټاکئ چې د ماشوم د مينې او لېوالتيا له کچې سره سمون ولري او ښکلی ظاهر او جذاب انځورونه ولري. د ماشوم لومړني کتابونه بايد لنډ او يوازې څو پاڼې ولري او پر هغو موضوعاتو باندې پکې تمرکز شوی وي، چې د ماشوم له نړۍ سره نږدې دي.

۲ - د ماشوم وختونه په هغو کتابونو سره ډک کړئ، کوم چې د هغه د پام وړ موضوعاتو باندې پکې بحث شوی وي. د بېلګې په توګه، که ستاسو ماشوم له ډايناسور سره مينه لري، هغه کتابونه ورته چمتو کړئ په کومو کې، چې د ډايناسور په اړه معلومات خپاره شوي وي.

۳ - د کيسې لوستلو لپاره يو ځانګړی وخت په پام کې ونيسئ. دا چاره په ځانګړې توګه د نويو په ښوونځي کې داخلو ماشومانو لپاره ډېره زياته مهمه ده. د کيسې لوستلو وخت نبايد ډېر اوږد وي. په دې وخت کې تر هرڅه زيات کيفيت مهم دی، څو هڅه وکړئ چې هغه د يوه منظم ورځني پروګرام په بڼه وڅارئ.

۴ - داسې کتابونه وټاکئ چې په خپله د هغو له لوستلو څخه خوند اخلي، ځکه ستاسو د لېوالتيا نښتون په ځرګند ډول ستاسو د خبرو په بڼه کې انعکاس پيدا کوي.

۵ - په ياد ولرئ، تر ډېره د ماشومانو د اوږدو کچه د هغوی د لوستنې له کچې څخه لوړه ده، نو فکر مه کوئ، ښايي ستاسو ماشوم د عمر له پلوه د (الف) په ډله کې وي او د هغو ماشومانو د کتابونو له اوريدو څخه خوند وانه خلي کوم چې د (ب) يا (ج) ډلو کې دي.

٦ - له لوستلو مخکې تل د کتاب د عنوان او ليکوال په اړه معلومات ورکړئ.

۷ - کومه کيسه چې لولی، نو په خپل ذهن کې يې مجسمه کړئ. منظري يې په خپل ذهن کې ووينئ، حتی هغه وخت هم کله چې کتاب هېڅ انځور نه لري. دا کار د دې سبب ګرځي، چې کيسه په ښکلې او واضحه توګه بيان کړی.

۸ - د لوستلو پر مهال له تنوع څخه ګټه واخلئ، له کيسې سره سم خپل غږ لوړ او ټيټ کړئ، د خپلو لاسونو او د مخ د غړو په وسيله بېلابېلې اشارې ولرئ. دا ټول تاسو او ستاسو له ماشوم سره د کيسې په جذابه کېدو او په زړه پورې کېدو کې مرسته کوي.

۹ - کوچني ماشومان چې لا يې ښوونځی ته د تګ عمر نه وي پوره کړی، د زده کړې، لوستلو او ليکلو لپاره ډېر زيات هيجاني وي، ځکه چې هغوی له يوه ستر ماشوم څخه لوړ پړاو ته رسوي. په همدې دليل هغه مور او پلار چې د کتاب لوستلو پر مهال له هيجان او د غږ له لوړوالي او ټيټ والي څخه ګټه اخلي، نو د خپل ماشوم راتلونکې کتاب لوستل يې تضمين کړي دي. د ماشوم د ذهني ودې او پياوړتيا لپاره، غوره ده چې د کتاب لوستلو پر مهال له کيسې څخه ځينې پوښتنې مطرح کړئ او ماشوم ته د ځواب ورکونې فرصت ورکړئ، له ماشوم سره په دليل او منطق خبرې وکړئ او د ماشوم تخيل او حواس بوخت کړئ. کله چې د ماشوم لپاره د کيسو کتاب لولی، نو له هغه څخه د (چېرته او څه) په اړه پوښتنې وکړئ او ځواب ورکړئ، څو په ماشوم کې د ولې ذهن رامنځته شي. د کتاب لوستلو پر مهال د لوبې په بڼه د پوښتنو مطرح کول، د دې سبب ګرځي چې ماشوم په لا ډېر دقت سره کتاب لوستلو ته دوام ورکړي. د ځواب ورکونې لپاره د هغه تفکر او هڅه، د فکري ودې زمينه برابره او استعدادونه يې پياوړي کوي.

۱۰ - له کتاب لوستلو وروسته له ماشوم سره په ملتيا کولو سره د لوبو په وسايلو، يا په ناوکيو سره يې د کيسې د شخصيتونو رول ولوبوئ. په لوبه کې په خلاقيت سربېره د تخيل ځواک هم روزل کېږي.

۱۱ - د هغو ماشومانو لپاره چې له يوازې ويده کېدو سره ستونزه لري، ښه ده چې له ويده کېدلو څخه مخکې کتاب ولولئ، خو يوازې د ويده کېدو پر مهال کتاب مه لولئ. د کتاب لوستلو لپاره تر ټولو غوره وخت هغه دی، چې ماشوم خوشاله او تازه وي.

۱۲ - د شرمېدونکو ماشومانو لپاره زموږ يو له وړانديزونو څخه د کتاب لوستل او د موبايل په وسيله د غږ ثبتول دي، څو وروسته ورته غوږ ونيسي، د خپل غږ اورېدل کولای شي د خپلو کمزورتياوو د پېژندنې، د هغو د لرې کولو او د ډېرو کسانو پر وړاندې د خبرو کولو لپاره پر ځان باندې د ماشوم باور زيات کړي. په ټوليزه توګه له کيسو څخه په ګټې اخيستنې سره کولای شو د ماشوم ډېرې ستونزې له منځه يوسو.

۱۳ - که د کومې پوښتنې په ځواب باندې نه پوهېږئ، نو غوره ده چې ماشوم ته ووايئ، چې نه پوهېږم او له کتاب څخه يې پيدا کړئ، په دې ترتيب دا څرګندوی چې کولای شو له کتاب څخه ډېر زيات په زړه پورې معلومات تر لاسه کړو.

۱۴ - ماشومان وهڅوئ چې له يو بل سره په ګډه کتاب ولولي. لږ څه ستر ماشومان کولای شي خپلو کوچنيو خويندو او ورونو ته کتاب ولولي. دا کار د لوستونکي، اورېدونکي او ستاسو په ګټه دی.

۱۵ - کتاب ولولئ او پرېږدئ ماشومان مو ووينې، چې تاسو هم کتاب لولی. د دې لپاره چې ماشومان په کور کې د مطالعې خاوندان وي، بايد يوه بېلګه ولري، چې په کور کې مطالعه کوي. که تاسو مطالعه نه کوی، نبايد دا تمه ولرئ چې ماشومان مو مطالعه وکړي، هغه څه ته چې ماشوم مو اړتيا لري، دا دي چې وګوري په ترتيب سره د مطالعې لپاره ډېر زيات وخت په پام کې نيسی.

۱٦ - د ماشومانو لپاره دا مشخصه کړئ چې کتاب لوستل د دوی لپاره څه ګټه لري او د لوستلو لپاره عملي دليلونه راوړئ.

۱۷- له خپلو ماشومانو څخه وغواړئ، چې د شيانو ځای د هغو نښو د لوستلو په وسيله پيدا کړي، چې په دېوال باندې ځړول شوي.

۱۸- د کاليو وينځلو د بېلابېلو پوډرو او دې ته ورته نورو شيانو نښې د منځپانګې او اندازې له مخې پرتله کړئ.

۱۹- هغه سوداګريزې نښې چې پېژني يې، ور وې ښيئ.

۲۰- له خپلو ماشومانو څخه وغواړئ چې د هغو معيارونو پر بنسټ، چې ترې يادونه ورته کوی، د يوه محصول لپاره يوه مشخصه نښه پيدا کړي.

۲۱- کله چې په کور کې اجناس ځای پرځای کوی، له خپلو ماشومانو سره خبرې وکړئ، چې لوستل له تاسو سره څنګه مرسته کوي، چې ښه پېر وکړي.

۲۲- ځينې مور او پلار داسې دي کله چې ماشوم يې يو کتاب ولولي، نو په مکافاتو کې هغه ته دا اجازه ورکوي، چې ټلوېزيون وګوري، خو ناخبره له دې چې مطالعه پخپله مکافات ګڼل کېږي. په دې کړنې سره هغوی ته دا پيغام ورکوي، چې د دوی مکافات مطالعه نه، بلکې د ټلوېزيون کتل دي.

## ساکي: د مې مياشتې تر لومړۍ نېټې پورې له افغانستانه د ځواکونو ايستل ستونزمن دي

سپينې ماڼۍ ويلي، چې له لوجستيکي اړخه به د مې مياشتې تر لومړۍ نېټې له افغانستان څخه د امريکايي سرتېرو ايستل ستونزمن وي. د سپينې ماڼۍ وياندې جين ساکي ويلي چې تر دې مخکې د امريکا د متحده ايالتونو ولسمشر جو بايډن هم د دغو ستونزو په اړه خبرې کړې وې.

ساکي زياته کړې: «د ټولو سرتېرو ايستلو په اړه د مې مياشتې لومړۍ نېټه به د لوجستيکي اړخه ډېره ستونزمنه وي. موږ ادامه ورکوو. هغه (جو بايډن) هم د خپل ملي امنيت سلاکارانو او نړيوالو شريکانو سره مشورو ته دوام ورکوي.»

د سپينې ماڼۍ وياندې دغه راز ويلي، چې د امريکا متحده ايالتونو ولسمشر اوسمهال له افغانستان څخه د امريکايي عسکرو د ايستلو، د امريکا د بهرني سياست او د دغه هېواد د ملي سياست په اړه د پرېکړې کولو په حال کې دی او په وينا يې، د سمې پرېکړې لپاره زيات وخت ته اړتيا ده.

د يادونې ده چې د امريکا او طالبانو د دوحې د پرېکړې په اساس بايد ټول امريکايي سرتېري د ۲۰۲۱ز کال د مې مياشتې تر لومړۍ نېټې له افغانستان څخه ووځي.

خو د امريکا ولسمشر جو بايډن د تېرې مارچ مياشتې پر ۲۵مه په سپينې ماڼۍ کې خبريالانو ته ويل چې نه غواړي امريکايي عسکر د زيات وخت لپاره په افغانستان کې پاتې شي، خو په خبره يې، تر مې مياشتې پورې به د ځواکونو ايستل ستونزمن وي.

بايډن ويل چې هغه او د امريکا د بهرنيو چارو وزير انتوني بلېنکن د امريکا له هغو متحدينو سره په مشورو بوخت دي، چې په افغانستان کې سرتېري لري. د نوموړي په خبره: «که له هغه ځايه وځو، په خونديو او منظم ډول به ووځو.»

په ورته مهال په دې وروستيو کې د بايډن په مشرۍ د امريکا حکومت د استخباراتي ادارو چارواکو ويلي، چې که له افغانستان څخه د امريکايي سرتېرو تر ايستلو مخکې په دغه هېواد کې د ښکېلو اړخونو ترمنځ د واک وېش رامنځته نه شي، په دوو يا درېو کلونو کې به وسله وال طالبان د دغه هېواد ډېرى سيمې تر خپل کنټرول لاندې راولي.

تر دې مخکې د افغانستان د ملي امنيت شورا سلاکار حمدالله محب ويلي وو، که د سولې له ټينګېدو پرته امريکايي ځواکونه له افغانستان څخه ووځي، په دغه هېواد کې به يو ځل بيا کورنۍ جګړې پيل شي.

## اروپايي ټولنه: په افغانستان کې د تلپاتې سولې لپاره خپلو هڅو ته دوام ورکوو

اروپايي ټولنې يو ځل بيا په افغانستان کې د سولې ټينګښت لپاره د خپلو هڅو د دوام ډاډ ورکړی دی. د دې ټولنې استازي ارنولډ پاولز د بهرنيو چارو له وزير حنيف اتمر سره په ليدنه کې ويلي، چې اروپايي ټولنه به په افغانستان کې د تلپاتې او عادلانه سولې ټينګښت برخه کې خپلو همکاريو ته دوام ورکړي.

د بهرنيو چارو وزارت د معلوماتو له مخې، په دې ليدنه کې دواړو لوريو دغه راز د سولې پر پروسې، د تېرو شل کلنو لاسته راوړنو پر ساتلو او د سولې برخه کې پر راتلونکو ګامونو خبرې اترې کړې دي. په دې ليدنه کې دواړو لوريو په ترکيه کې د افغان سولې په تړاو جوړېدونکی کنفرانس مهم بللی او زياته کړې يې ده چې دا ناسته به د افغان سولې لپاره د سيمه‌ييزې اجماع پياوړې کولو په برخه کې هم رول ولري.

د افغان سولې په تړاو د اروپايي ټولنې دا څرګندونې داسې مهال دي چې په دې وروستيو کې يو ځل بيا په کور دننه او بهر د افغان سولې په تړاو بحثونه ګرم شوي دي. د ملي مصالحې عالي شورا رييس عبدالله عبدالله ويلي چې د دغې شورا پنځلس کسيزې کمېټې په وروستيو غونډو کې د سولې په وړاندې شويو طرحو په تفصيل سره خپلو خبرو ته دوام ورکړی، څو په ترکيه کې د سولې کنفرانس لپاره د جمهوري رياست دريځ منسجم کړي.

د دې شورا د چارواکو په خبره، دوی ته د سولې او راتلونکي حکومت په اړه ګڼې طرحې رسېدلې او دوی هڅه کوي چې د ترکيې ناستې لپاره له ټولو اړخونو سره تر خبرو او مشورو وروسته له يوې واحدې طرحې سره ولاړ شي او هلته پرې له نورو اړخونو سره خبرې وکړي.

مسیر ورځپانه
**مسوول مدير:** اسدالله وحيدي
**مرستيال:** شفيق اميرزی
**ايډېټران:** جواد تيموري او امان الله حنيفي
**خبريالان:** حميدالله حميدي، حکمت آرين
او حشمت الله نوري
**ګرافيک او ډيزاين:** ارمان
**چاپخونه:** وايګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦
۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦
maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily

WAYGAL
PRINTING CO
غوره کیفیت او چټک خدمات په
وایګل چاپ کې تجربه کړئ!
وایګل چاپ
WAYGAL Printing Co.
+93 (0) 202 51 2626, +93 (0) 782 98 9696
waygalprinting.co@gmail.com waygalprinting.co
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul

چهارشنبه د ۱۴۰۰ د وري ۱۸مه | د ۲۰۲۱ د اپريل اوومه |۷۰۵مه ګڼه
www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱۶ | ۲۷ | ۱۹ | ۲۳ | ۲۸ | ۱۸ |
| ۴ | ۱۱ | ۷ | ۱۲ | ۱۲ | ۹ |

شرعي وختونه: سهار ۰٤:۰۷ | لمر ختل ۰٥:۳۳ | ماسپښين ۱۱:٥۷ | مازیګر ۰٤:۳۰ | ماښام ۰٦:۱۸ | ماخوستن ۰۷:٤۱

## نړۍ



## امریکا: له ایران سره به د اټومي تړون پر سر خبرې ستونزمنې وي او شایي ژر پایله ونه لري

۳

## تازه شمېرې: په نړۍ کې د کرونا د مړو شمېر له دوه میلیونه او ۸۷۷ زرو کسانو واوښت

د تازه شمېرو له مخې، په نړۍ کې پر کرونا ویروس د اخته کسانو شمېر ۱۳۲ میلیونه او ٦۱۸ زره او ۹۲۳ کسانو ته رسېدلی دی. دغه راز د یاد ویروس له کبله تر دې مهاله دوه میلیونه او ۸۷۷ زره کسان مړه شوي او له ۱۰٦ میلیونو ډېر تري بېرته رغېدلي دي.

د يادو شمېرو له مخې، د امریکا متحده ایالتونه د دغه ویروس د ډېرو مثبتو پېښو او قربانیانو له اړخه د نړۍ تر ټولو مخکښ هېواد دی. د راپورونو پر بنسټ، په امریکا کې د دغه ویروس مثبتې پېښې ۳۱ میلیونه او ۵۰۴ زره او ۳۱۱ ته رسېدلي او ٥٦۹ زره او ۳۹۸ نور امریکایان ترې مړه شوي دي.

دغه راز برازیل د ۱۳ میلیونه او ۲۳ زره او ۱۸۹ مثبتو پېښو له اړخه د نړۍ دویم، هند د ۱۲ میلیونه او ۷۱۲ زره او ۷۵۹ مثبتو پېښو په درلودو سره د نړۍ دریيم، فرانسه د څلور میلیونه او ۸۳۳ زره او ۲٦۳ مثبتو پېښو له اړخه د نړۍ څلورم او روسیه د څلور میلیونه او ۵۹۷ زره او ۸٦۸ مثبتو پېښو په درلودو سره د نړۍ پنځم هغه هېواد دی چې د کرونا ویروس ډېرې پېښې پکې ثبت شوې دي.

برېټانیا، ایټالیا، ترکیه، هسپانیا او جرمني بیا په ترتیب سره شپږم، اووم، اتم، نهم او لسم هغه هېوادونه دي چې د کرونا له کبله ډېر ځپل شوي دي.

## راپورونه: په اندونیزیا کې د وروستیو سېلابونو د قربانیانو شمېر له ۱۲۸ کسانو اوښتی



د راپورونو له مخې، د اندونیزیا په بېلا بېلو ټاپوګانونو کې د وروستیو اوربښتونو او ځمکې ښويېدنې له کبله د مړو شمېر له ۱۲۸ کسانو اوښتی دی. چارواکو دغه راز ویلي چې د تازه ګرمو موسمي توپانونو له کبله شاوخوا ۷۲ تنه نور ورک دي او دوی یې لټون پیل کړی دی. په یاد هېواد کې له یو لړ سختو بارانونو وروسته سېلابونه را ووتل چې په ځینو برخو کې یې ځمکې وښويېدې، پلونه ونړېدل، ونې وغورځېدې او سړکونو ته ختې راووتلې چې له کبله یې د ورکو شویو کسانو لټون هم ټکنی شوی دی. چارواکو د دغه تازه توپان نوم سیروجا ښودلی چې په خبره یې په چټکۍ سره نورو ټاپوګانو ته د خپرېدو په حال کې دی. د یاد هېواد روغتیايي مسوولینو هم ویلي چې د وروستیو سېلابونو او ځمکې ښويېدنې له کبله د قربانیانو شمېر له ۱۲۸ کسانو اوښتی او د زرګونو نورو کورونه خراب شوي او له سیمې وتلي دي. یوه تر ټولو خطرناکه پېښه د لمباټا په ټاپو کې وشوه، چې د باران له کبله هلته اورغورځوونکی غر وپارېده، اور شیندل یې پیل کړل او یو شمېر کورونه یې رنګ کړل. په ورته مهال د اندونیزیا په ګاونډ ختیځ تیمور کې هم دغه توپان ډېر ورانی کړی او ۲۷ کسان یې مړه کړي دي.

## سازمان ملل: بهبود اقتصاد افغانستان وابسته به تأمین صلح است



برنامه توسعۀ سازمان ملل متحد یا یو.ان.دی.پی آیندۀ رشد اقتصادی افغانستان را تیره و تار دانسته است. این سازمان با انتشار گزارش سالیانۀ وضعیت اقتصادی افغانستان با عنوان «عبور از مشکلات کوتاه مدت و دست‌یابی به اهداف درازمدت در افغانستان» به عوامل کاهش رشد اقتصادی این کشور اشاره کرده است.

براساس این گزارش، اگرچه فرصت‌های زیادی پیش روی افغانستان قرار دارد، اما پیش‌شرط اصلی رسیدن به این فرصت‌ها دست‌یابی به صلح است. به نظر نویسنده گزارش، اگر صلح هم برقرار شود، افغانستان همچنان باید با خشکسالی‌های مکرر، سیل و زلزله دست و پنجه نرم کند که بر معیشت تاثیر می‌گذارد.


گزارش افزوده که با شیوع کووید ۱۹، چالش‌ها بیشتر شد و ممکن است دستاوردهای گذشته هم به خطر بیفتد، پیشرفت متوقف شود و چشم‌انداز آینده را تاریک‌تر کند.

با این همه، برنامۀ توسعه سازمان ملل متحد تخمین زده که در صورت تحقق صلح و پایداریش برای ۴ سال آینده، تولید ناخالص ملی افغانستان ۷ درصد افزایش خواهد یافت و این امر درآمد و توانایی دولت را در تأمین بودجه برای برنامه‌های توسعه‌ای و اجتماعی افزایش خواهد داد.

از سوی دیگر، این گزارش با نگرانی از عدم پیشرفت روند صلح و حکومتداری خوب در ۱۰ سال گذشته گفته که با توجه به میزان رشد سریع جمعیت و رشد ضعیف اقتصادی، درآمد سرانۀ افغانستان در سال ۲۰۲۴ نسبت به سال ۲۰۱۹ ده درصد کمتر خواهد بود و در نتیجه، میزان فقر به ۷۰ درصد خواهد رسید.

## ژوند

## له درملو پرته د بدن له دردونو سره مخه ښه وکړئ



ډېر کله موږ د درد د ارامولو لپاره له ګولیو او درملو څخه استفاده کوو؛ خو ځینې میوې او غذاوې هم دا کار په ډېرې اسانۍ سره کوي.

**۱- هوږه:** هوږه له کلونو راهیسې د درد د ارامولو لپاره استعمالیږي. هوږه که په یوه وړه کاشوغه د زیتونو غوړیو کې ګرمه شي او د بدن هغه ځای چې درد کوي، وربانديې غوړ شي؛ درد ارامويي.


**۲- وربشې:** وربشې هم د درد د ارامولو لپاره ډېرې ګټورې دي، په خاص ډول له مېرمنو سره د هغوی د حیض په دوره کې د درد په ارامولو کې مرسته کوي.

**۳- انګور:** انګور د ملا دردونه ارامويي او د وینې جریان تیزوي.

**۴-لونګ:** لونګ د غاښونو د درد د ارامولو لپاره استعمالیږي.

ډاکټران په دې اند دي چې که د ډېر وخت لپاره درد اراموونکي درمل وخوړل شي، په بدن کې ډېرې ستونزې رامنځ ته کوي. د دې تر څنګ، ډېری درد اراموونکي درمل بډوډو ته هم زیان رسوي او په راتلونکې کې پر بدن د نورو درملو اغېز هم کموي.

## سامسُنګ پر دوه ځایه قاتېدونکي موبایل کار کوي



د سامسُنګ کمپنۍ قاتېدونکي مخپاڼه لرونکي ځیرک موبایلونه د کاروونکو له تود هرکلي سره مخشوي او بې شمېره مینه‌وال لري. د سامسُنګ کمپنۍ اوسنیو قاتېدونکو مخپاڼه لرونکو ځیرک موبایلونو مخپاڼې یوازې یوه برخه کې قاتېږي او په دې ډول کاروونکي یو ځیرک موبایل هم د موبایل او هم د ټبلېټ په توګه کارولی شي. خو اوس سامسُنګ کمپنۍ غواړي څو داسې قاتېدونکي مخپاڼه لرونکي ځیرک موبایلونه جوړ کړي، چې مخپاڼه یې دوه ځایه قات شي او د دې موخې لپاره یې ډیزاین او له امریکا څخه د جوړولو جواز هم تر لاسه کړی دی. د سامسُنګ کمپنۍ د دغه ځیرک موبایل ډیزاین د مارچ په ۱٦مه خپور شو. د ډیزاین په اړه خپرو شویو معلوماتو کې د دغه ځیرک موبایل د ځانګړنو او دا چې له کوم ډول موادو څخه به جوړېږي، څه نه دي ویل شوي. د دې ډیزاین په مرسته به کاروونکي وکولی شي لویه مخپاڼه لرونکی ټبلېټ د یو کوچني ځیرک موبایل په توګه خپل جیب کې ولېږدوي.





## د میرمنو لپاره ځانګړی جاري حساب

عزیزي بانک خوښ دی چې تاسو ته د میرمنو جاري حساب درپېژني چې د افغانستان د درنو او قدرمنو میرمنو لپاره ځانګړی شوی محصول دی. میرمنې کولی شي په اې ټي ام او ماستر ډبټ کارتونوکې د تخفیف له فیس سره په افغانیو او ډالرو کې پرانیزي. یاد حساب د ساتندویه او لنډ پیغام فیس پرته پرانېستلی شي. همدا راز د میرمنو حساب له ټیټ ارتیاوړ بیلانس سره یعنې 500 افغانیو او 50 ډالرو سره پرانېستل کېږي چې میرمنو ته آسانه او ارزانه بانکوالی چمتو کوي.

www.azizibank.af 1515